


# د عامې روغتیا وزارت اوونیزه!

لومړی پړاو - پنځمه گڼه

(پرلیــکه خپرونه)

۱۴۴۷-۰۴-۰۲

- د عامې روغتیا وزیر په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د قزاقستان له سفیر سره لیدنه!
- د هېواد له خصوصي روغتیایي سکتور څخه د نظارتونو ترسره کېدل!
- د عامې روغتیا وزارت اړوند د نیمه پاتې رغنیزو پروژو بیا پیل او تر سره کېدنه!
- د کندز ولایت جرگذر کلي کې د یو روغتیایي مرکز د بنسټ ډبره کېښودل!
- د کونړ ولایت خاص کونړ ولسوالۍ کمپ کې د زلزله ځپلو درملنې لپاره د ۱۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د یو اساسي روغتیایي مرکز جوړېدل!

د ویاندوی، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست



## د هېواد له خصوصي روغتیايي مرکزونو څخه د نظارت پیل شوې لړۍ دوام لري.

د نظارت یاده لړۍ د عامې روغتیا وزارت د طبي شورا لوی رئیس، ډاکټر فقیر محمد زیار په مشرۍ د یوې باصلاحیته کمېټې له لوري پیل شوې ده، چې موخه یې د هېواد په خصوصي روغتیايي مرکزونو کې د بهرنیو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتیايي کارکوونکو شتون، د فعالیت تنظیم، تحصیلي اسنادو، جوازونو او د اقامت سندونو څېړل دي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کېږي. د نظارتونو یاده لړۍ چې څه موده وړاندې پیل شوې ده، پر دوام یې له سیاووش، بابر معالجوي، ثابت شینوزاده، امیر حاجي زاده، افغان سویس، افغانستان معالجوي، تابان، زلمي احمدزي، مسعود مصطفی، لمر، الطیب، حسني، الخیر، عتیق الله امرخېل، بلاسم او راحیل روغتونونو څخه نظارت ترسره شو او اړوندو مسؤلینو ته د باکیفیته تخصصي او معیاري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د هېواد په کچه د روغتیايي خدمتونو کیفیت لوړ او ناروغانو ته لازم روغتیايي خدمات وړاندې شي.  د یادونې وړ ده، چې دغه نظارتي بهیر به ډېر ژر د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د روغتیايي قوانیو د تطبیق په موخه عملي شي او د مسؤلینو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي؛ څو د خصوصي روغتیايي مرکزونو فعالیتونه د عامې روغتیا وزارت له پالیسۍ سره سم ترسره او د خلکو روغتیا خوندي شي.

## The Process of Monitoring Private Healthcare Centers in The Country is Ongoing.

This inspection is carried out by an authorized committee led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Chief of the Medical Council of the Ministry of Public Health, to examine the presence, activities, educational documents, licenses, and residence permits of foreign and domestic doctors, nurses, and other health workers in private health centers across the country and to take legal action in case of any violations.

The ongoing monitoring initiative, which commenced some time ago, has continued with oversight conducted at Siawash, Babar Medical, Sabet Shinozada, Amir Hajizada, Afghan Swiss, Afghanistan Curative, Taban, Zalmai Ahmadzai, Masood Mustafa, Lemar, Al-Tayeb, Hassani, Al-Khair, Atiqullah Amarkhil, Blossom, Raheel hospitals. As a result, necessary recommendations were issued to the respective officials aimed at delivering high-quality, specialized, and standardized services. These measures are intended to elevate the standard of healthcare services nationwide and ensure that patients receive appropriate and quality medical care.

Notably, this monitoring process will soon be extended to other provinces of the country to enforce health laws. Legal action will be taken against violators by the relevant authorities to ensure that the activities of private health centers are carried out in accordance with the policy of the Ministry of Public Health and to safeguard public health.



## د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ له مسؤلينو سره د تعليمي نصاب کيفيت لوړولو اړوند ناسته تر سره کړه.

په دې ناسته کې د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ د ټولو څانګو د نصاب او مفرداتو ارزونې، د نصاب د يو شان والي او معياري کېدو لپاره د واحد سيستم رامنځته کولو او د خصوصي انستيټيوټونو د رياست له لوري د جوړ شوي ډيټابېس ارزونې او د عملي کېدو په برخه کې ورسره د همکارۍ اړوند بحث او خبرې تر سره شوې. د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي روغتيا برخه کې د زده کړو کيفيت لوړول د عامې روغتيا وزارت له لومړيتوبونو څخه وباله او ويې ويل، د دې لپاره چې د هېواد په ټولو روغتيايي انستيټيوټونو کې يو ډول تدريس تر سره شي، اړتيا ده چې د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ د ټولو څانګو د نصاب ارزونه تر سره او د نصاب د يو ډول والي او معياري کېدو لپاره يو واحد سيستم رامنځته شي؛ تر څو په ټولو روغتيايي انستيټيوټونو کې د يو معياري نصاب له مخې تدريس تر سره شي. د مالي او اداري چارو مرستيال همداراز، د يادې کمېټې غړو ته د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ و زياته يې کړه په دې برخه کې به ټولې شريک شوي وړانديزونه د عامې روغتيا وزارت له رهبرۍ سره شريک کړي.

## Qari Abdul Wali Siddiqi, Deputy Minister of Financial and Administrative Affairs at the Ministry of Public Health, met with officials from Professor Ghazanfar Institute of Health Sciences to discuss improving the curriculum quality.

They reviewed the curriculum and subjects from all departments, talked about creating a unified system to standardize the curriculum, and discussed cooperation on evaluating the private institutes' database. H.E Siddiqi said improving health education quality is a priority for the Ministry. To ensure uniform teaching across all health institutes, the curriculum needs reviewing and standardizing through a single system. His Excellency also promised full cooperation to the committee and said all suggestions will be shared with the Ministry's leadership.

## محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری وزارت صحت‌عامه ۱.۱.۱ نشستی را با مسوولان انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر در مورد ارتقاء کیفیت نصاب تعلیمی برگزار کرد.

در این نشست، روی ارزیابی نصاب و مفردات تمام بخش‌های انستیتوت، ایجاد یک سیستم واحد برای یکسان‌سازی و معیاری‌سازی نصاب، همچنان ارزیابی دیتابیس ایجادشده توسط ریاست انستیتوت‌های خصوصی و تطبیق آن، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. محترم معین مالی و اداری وزارت صحت‌عامه، ارتقاء کیفیت آموزش در بخش صحی را از اولویت‌های اساسی وزارت دانسته افزود : برای تحقق تدریس یکنواخت در تمام انستیتوت‌های صحی کشور، لازم است تا نصاب تمام بخش‌های انستیتوت ها مورد بررسی قرار گیرد و یک سیستم واحد و معیاری ایجاد شود تا تدریس بر اساس نصاب معیاری صورت گیرد. وی‌همچنان به اعضای این کمیته اطمینان داد که، در این راستا همکاری کامل خواهد داشت و تمام پیشنهادات مطرح‌شده را با رهبری وزارت صحت‌عامه نیز شریک خواهد ساخت.

## د متحده عربي اماراتو هېواد سرې میاشتې ټولنې په هېواد کې د وروستۍ زلزلې له امله د ټپي شویو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د ننګرهار عامې روغتیا ریاست سره د ۹۳۸ کارټنه درملو مرسته وکړه.

دا مرسته چې ۱۲۷ قلمه ده، د عربي اماراتو د سفارت استازو له لوري د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس، مولوي امین الله شریف ته وسپارل شوه د دې مرستې موخه د هغه ټپیانو ستونزو ته رسېدنه ده، چې د ننګرهار سیمه ییز روغتون او یا نورو روغتیایي مرکزونو کې بستر دي او یا مراجعه کوي. د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس، د یادې مرستې په موخه مننه وکړه او د اړینو طبي تجهیزاتو برخه کې یې د لا مرستې غوښتنه وکړه.




## UAE Red Crescent Donates 938 Cartons of Medicines to Nangarhar Public Health.

The aid, consisting of 127 types of medicines, was handed over by representatives of the UAE Embassy to Nangarhar Public Health Director, Mawlawi Aminullah Sharif. The donation aims to support patients injured in the recent earthquake who are receiving treatment at Nangarhar Regional Hospital or other health centers. Mawlawi Aminullah Sharif thanked the UAE for the assistance and called for further support with essential medical equipment.

## جمعیت هلال احمر امارات متحده عربی به هدف تداوی مجروحین زلزله اخیر، ۹۳۸ کارتن ادویه به ریاست صحت عامه ولایت ننگرهار کمک کرد.

این کمک که شامل ۱۲۷ قلم دوا می‌باشد، توسط نماینده‌گان سفارت امارات به الحاج مولوی امین‌الله شریف، رئیس صحت‌عامه ننگرهار، تسلیم داده شد. هدف از این کمک، رسیده‌گی به مجروحینی است که در شفاخانه‌های حوزوی و سایر مراکز صحی بستر هستند و یا مراجعه می‌نمایند. رئیس صحت‌عامه ولایت ننگرهار، از این کمک اظهار سپاس وقدردانی نموده و خواهان همکاری در بخش تجهیزات مهم طبی نیز گردید.

## یک برنامه آموزشی، خدمات بایومیدیکل در بخش‌های لابراتوار، با حمایت تخنیکی آمریت لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه برگزار شد.



این برنامه آموزشی خدمات بایومیدیکل (ظرفیت‌سازی تخنیکی و مراقبت تجهیزات مهم ) برای لابراتوارهای پنج‌گانه حوزوی کشور را که شامل (هرات، بلخ، ننگرهار، قندهار و پکتیا) می شونداز تاریخ ۲۳ الی ۲۷ سنبله ۱۴۰۴ هـ.ش، به مدت پنج روز، در چوکات پروژه گلوبل فند - بخش لابراتوارها، در آمریت لابراتوارهای مرکزی، با هماهنگی ریاست روابط بین‌الملل (واحد تقویت سیستم صحی و جلب منابع) برگزار و اختتام نمود. در این برنامه داکتر مسعود دلسوز، آمرلابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، در مورد اهمیت مراقبت از تجهیزات لابراتواری و اهمیت آن در تشخیص، معلومات تخنیکی ارایه نمود و از اشتراک کننده گان خواست تا از این فرصت استفاده موثر نمایند. قابل یاد آوری است که در این برنامه، ده تن از کارمندان تخنیکی لابراتوارهای حوزوی به شمول لابراتوارهای مرکزی اشتراک داشتند و این برنامه شامل بخش‌های تیوری و عملی بود که با استفاده از تجهیزات و وسایل مراقبت این تریننگ با موفقیت کامل به پایان رسید. هدف اساسی این نوع برنامه، ارتقاء ظرفیت مسلکی لابراتوارهای حوزوی کشور، بهتر نمودن مراقبت از وسایل گران بها در لابراتوار های حوزوی و ارائه خدمات معیاری تشخیصیه، صحت‌عامه توسط وسایل فعال و کنترول شده در مراکز مربوط می‌باشد.







## د اکمال تحصص لوی ریاست د ازموینو بورډ لومړی غونډه ترسره شوه.

د طبي تخصصي علمي کادر غړو د قانون له مخې، د تخصص پروګرام د بېلا بېلو ازموینو اخیستل (ټرینري، فوق تخصص، جام ، ترفیع (Comprehensive) ازموینې، تخصص برنامې ته د شاملېدو او خارج مرز) ازموینو پورې اړوند نور موضوعات باید د منل شویو معیارونو سره سم تنظیم شي. په همدې اساس د اکمال تحصص د ازموینو بورډ لومړی غونډه د بورډ د ټولو غړو، د اکاډمیکو چارو د همغږۍ ریاست د مسؤلینو په ګډون د اکمال تخصص لوی رئیس، ډاکټر نثار احمد نیازي په مشرۍ د یاد ریاست په دفتر کې ترسره شوه. د دې غونډې موخه په ازموینو کې د شته ننګونو بیاکتنه او د حل لارې ترلاسه کول، د ازموینو بورډ د دندو د لایحې بیاکتنه، د ازموینو لپاره د لایحې او جامع لارښودونو چمتو کول، د اکمال تخصص لوی ریاست د ازموینو اخیستلو میتودونو ښه کول او همدارنګه د ازموینو پورې اړوند مهمو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحث تر سره شو؛ تر څو شفافیت رامنځته او د هېواد روغتیایي سکتور ته وړ متخصصین وروپېژندل شي.

## اولین جلسه بورد امتحانات ریاست عمومی اکمال تخصص برگزار شد

به اساس قانون کادر علمي تخصصی طبی، اخذ امتحانات مختلف برنامه تخصص(ترینری، فوق تخصص،جامع (Comprehensive)، امتحانات ارتقائی، شمولیت به برنامه تخصص، خارج مرز) و سایر موضوعات مربوط به امتحانات باید مطابق معیارات پذیرفته شده تنظیم گردد. بناءً اولین جلسه بورد امتحانات اکمال تخصص با اشتراک همه اعضای بورد، مسئولین ریاست انسجام امور اکادمیک، تحت رهبری داکتر نثار احمد نیازی رئیس عمومی اکمال تخصص در مقر این ریاست دایر گردید. هدف از تدویر این جلسه بررسی و دریافت راه حل برای چالش های موجود در امتحانات، بررسی لایحه وظایف بورد امتحانات، تهیه لایحه و رهنمود جامع برای امتحانات، بهبود شیوه های اخذ امتحانات ریاست عمومی اکمال تخصص بود و همچنان در موارد موضوعات مهم و مرتبط به امتحانات جهت بهبود، شفافیت و تقدیم متخصصین شایسته به کشور بحث های همه جانبه نیز صورت گرفت.

## First Meeting of the Medical Specialty Examinations Board Held

According to the law, exams for medical specialty programs including training, subspecialty, comprehensive, promotion, admission, and overseas exams must follow accepted standards. The first meeting of the Medical Specialty Examinations Board was held at the General Directorate's office, led by Dr. Nisar Ahmad Niazi, Director General of Medical Specialty, with all board members and academic coordination officials present. The meeting reviewed exam challenges and solutions, updated the board's duties and regulations, prepared guidelines, improved exam methods, and discussed key topics to ensure transparency and select qualified specialists for the country.



## Farah Provincial Hospital Receives Donation of Medical Equipment.

The donation, provided by the Fatima Charity Foundation, included 10 incubators and 4 phototherapy units, which were presented to the hospital in the presence of relevant officials. Deputy Director of Farah Public Health, Mawlawi Din Mohammad Abdul Haq, thanked the foundation and emphasized that these medical devices are valuable for treating children, noting that they will greatly help address patients' needs.

## د فراه ولایتي روغتون سره د روغتیایي وسایلو مرسته وشوه.

یاده مرسته د فاطمه خیریه بنسټ له لوري شوې، چې په کې ۱۰ پایې انکوبیټرز ماشینونه او څلور عدده فوتوتراپي وسایل شامل دي، چې د اړوندو مسؤلینو په شتون کې یاد روغتون ته وسپارل شول. د فراه د عامې روغتیا مرستیال، ملا دین محمد عبدالحق له یاد خیریه بنسټ څخه مننه وکړه او دغه طبي وسایل یې د ماشومانو د درملنې برخه کې ارزښتنمن وبلل، چې ورسره به د ناروغانو ستونزې تر ډېره حل شي.

## خوست کې له یو شمېر خوراکي توکو پلورنځیو او د مالګې د تولید له فابریکو څخه نظارت تر سره شو.



یاد نظارت، چې د عامې روغتیا ریاست د خوراکي تاسیساتو څخه د څارنې ټیم له لوري تر سره شو، پایله کې یې د خوست په مرکز متون ښار کې د خوراکي توکو له پلورنځیو څخه یو اندازه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه د خوست د عامې روغتیا ریاست ته ولېږدول شول. همداراز، د مالګې د تولید له اته کارخونو څخه نظارت تر سره شو، چې پایله کې یې ۴ فابریکې د غیر معیاري خدماتو او د جوازونو د نه شتون له امله وتړل #شوې او اړوندو مسؤلینو ته د روغتیایي کارتونو تر لاسه کولو او حفظ الصحې اړوند لازمې سپارښتنې وشوې.

## Inspection Conducted at Several Food Stores and Salt Production Factories in Khost.



The inspection, carried out by the Food Facility Monitoring Team of the Public Health Directorate, led to the collection of expired food products from stores in Matun city, the capital of Khost. These products were subsequently handed over to the Khost Public Health Directorate for proper disposal. Additionally, eight salt production factories were inspected, resulting in the closure of four factories due to substandard operations and lack of licenses. The relevant officials were also provided with necessary recommendations regarding health cards and hygiene compliance.

## تېره یوه میاشت کې د عامې روغتیا وزارت د چاپېریال روغتیا ریاست له لوري د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د کولرا ناروغۍ د مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي کمپاین ترسره شو.

دغه کمپاین په ښوونځیو او وړکتونونو کې د کولرا ناروغۍ د مخنیوي په موخه ترسره شو، چې په ترڅ کې یې څه باندې ۳۰زره تنه ښوونکو او زده‌کوونکو ته د کولرا ناروغۍ د مخنیوي په موخه روغتیایي لارښوونې او معلومات ورکړل شول او د روغتیایي لارښوونو او معلوماتو ۳۱زره تبلیغاتي پاڼې د ښوونځیو او وړکتونونو په مناسبو ځایونو کې نصب او زده کوونکو ته ووېشل شوې؛ څو د یادې ناروغۍ د خپرېدو مخه ونیول شي او د زده‌کوونکو روغتیا خوندي شي. دغه راز، د چاپېریال روغتیا ریاست مسؤلینو له لوري په بېلابېلو مکتبونو او وړکتونونو کې ښوونکو او کارکوونکو ته د حفظ الصحې مراعتولو او روغتیایي کارتونو اخیستلو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو زده‌کوونکو ته له ناروغیو څخه د یو خوندي تعلیمي چاپېریال زمینه برابره شي.



## در جریان یک ماه گذشته، ریاست صحت محیطی وزارت صحت‌عامه، در نواحی مختلف شهر کابل کمپاین آگاهی‌دهی عامه را برای جلوگیری از بیماری کولرا راه‌اندازی کرده است.

این کمپاین در مکاتب و کودکستان‌ها، به منظور جلوگیری از شیوع بیماری کولرا برگزار شده است، که در آن، به بیش از ۳۰ هزار تن از معلمان و شاگردان، رهنمودها و معلومات صحی ارائه گردید. همچنان، ۳۱ هزار برگه تبلیغاتی حاوی معلومات صحی در مکان‌های مناسب مکاتب و کودکستان‌ها نصب و در میان شاگردان توزیع شد تا از گسترش این بیماری جلوگیری و صحت شاگردان حفظ گردد. همچنان، مسوولان ریاست صحت محیطی به کارمندان و معلمان در مکاتب و کودکستان‌های مختلف، در مورد رعایت حفظ الصحه و گرفتن کارت‌های صحی هدایت‌های لازم دادند تا برای شاگردان محیط آموزشی مصوون از بیماری‌ها فراهم گردد.

## Over The Past Month, The Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health Conducted a Public Awareness Campaign in various districts of Kabul City to Prevent Cholera Disease

This campaign was conducted to prevent cholera disease in schools and childcare centers. During the campaign, more than 30,000 teachers and students were provided with health guidance and information on cholera prevention. Additionally, 31,000 health instruction leaflets were placed in appropriate locations within schools and childcare centers and distributed to students to help prevent the spread of the disease and protect students' health. In addition, officials from the Environmental Health Directorate have provided teachers and staff in various schools and childcare centers with necessary recommendations to maintain hygiene and obtain health cards, ensuring a safe, disease-free educational environment for students.

## فراه او بلخ ولایتونو له شمېر روغتیايي مرکزونو، درملتونونو او رسټورانټونو څخه نظارت ترسره شو.

دغه نظارت د يادو ولايتونو د عامې روغتيا مسؤلينو له لوري ترسره شو، چې پايله کې يې فراه ولايت کې يوه اکسرې خونه، دوه درملتونونه او بلخ ولايت کې اته رستورانتونه له روغتيايي قوانينو څخه د سرغړونې او حفظ الصحې نه مراعتولولو له امله وتړل شول. دغه راز، د ياد نظارت په ترڅ کې اړوندو مسؤلينو ته د روغتيايي قوانينو مراعتولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د بې کيفيته او غير معياري خدماتو مخه ونيول شي او د خلکو روغتيا خوندي شي.



## از یک تعداد مراکز صحی، دواخانه‌ها و رستورانت‌ها در ولایت‌های فراه و بلخ نظارت صورت گرفت.

این نظارت که توسط مسوولان ریاست های صحت‌عامه این ولایات صورت گرفت، در نتیجه آن، یک اتاق اکسری و دو دواخانه در ولایت فراه، و هشت رستورانت در ولایت بلخ به دلیل تخطی از قوانین صحی و عدم رعایت حفظ الصحه مسدود گردیدند. همچنان، در جریان این نظارت به مسوولان مربوطه هدایات لازم برای رعایت قوانین صحی داده شد، تا از ارائه خدمات بی‌کیفیت و غیرمعیاری جلوگیری شده و صحت مردم حفظ گردد.

## A Sweeping Inspection Rolled out at Multiple Health Centers, Pharmacies, and Eateries in Farah and Balkh Provinces.

This monitoring was carried out by public health officials in the aforementioned provinces, which resulted in the closure of one X-ray room and two pharmacies in Farah province, as well as eight restaurants in Balkh province, for violating health regulations and failing to meet hygiene standards. Additionally, during this monitoring, the relevant officials were provided with necessary recommendations to comply with health regulations, prevent poor-quality and substandard services, and safeguard public health.

## د درملو توليدي کارخونو مسلکي کارکوونکو لپاره د "ښه توليدي کړنو (GMP) " په اړه درې ورځنۍ سيمينار پيل شو.

په مرکز کابل کې د درملو او روغتيايي محصولاتو فابريکو ۱۰۰تنه مسلکي کارکوونکو لپاره د "ښه توليدي کړنو GMP " په اړه درې ورځنۍ سيمينار د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت له لوري د ياد معينيت په تالار کې پيل شو. په دې روزنيز سيمينار کې د خوړو او درملو معينت د درملو او روغتيايي محصولاتو د تنظيم لوی رئيس، ډاکټر نعيم الله ايوبي د دې سيمينار پر اهميت ټينګار وکړ، د هېواد په اوسنيو شرايطو کې يې د درملو صنعت يوه اړتيا وګڼله او ويې ويل: (د ملي او نړيوال اعتبار ترلاسه کولو لپاره، د ټولو درملو او روغتيايي محصولاتو فابريکو لپاره اړينه ده، چې خپل محصولات په نړيواله کچه منل شوي معيارونو "ښو توليدي کړنو GMP " سره سم تنظيم کړي). د يادونې وړ ده، چې GMP د اصولو او کړنلارو يوه ټولګه ده، چې په بېلا بېلو صنعتونو کې په ځانګړې توګه د درملو، خوراکي او ارايشي توکو په صنعت کې پلي کېږي؛ تر څو د محصولاتو کيفيت او خونديتوب ډاډمن کړي.




## Three-Day Seminar on Good Manufacturing Practices (GMP) Kicks Off in Kabul

A three-day seminar on Good Manufacturing Practices (GMP) kicked off in Kabul, bringing together 100 technical professionals from pharmaceutical and healthcare product manufacturing companies. The event is being conducted at the auditorium of the Deputy Minister's Office for Food and Drugs, under the aegis of the Ministry of Public Health. Addressing the gathering at the inaugural session, Dr. Naeemullah Ayubi, Director General for the Regulation of Medicines and Health Products, described the local pharmaceutical industry as a strategic priority, particularly in light of the country's current healthcare needs. To gain both national and international credibility, it is essential for all pharmaceutical and healthcare product manufacturers to align their operations with globally accepted standards of Good Manufacturing Practices (GMP)," he noted, calling for increased adherence to international protocols. GMP, short for Good Manufacturing Practices, refers to a structured system of internationally recognized guidelines applied across multiple industries—most notably in pharmaceuticals, food, and cosmetics—to ensure consistent product quality, safety, and efficacy at every stage of the production process.





## د عامې روغتيا وزارت اړوند د نيمه پاتې رغنيزو پروژو بيا پيل او تر سره کېدنه!

د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ په هڅو د روغتيا برخه کې يو شمېر نيمه پاتې پروژې بيا پيل شوي چې ځينې يې په دا وروستيو کې تر سره او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې ، په لړ کې د کونړ ولايت د ۲۰۰ بستريز روغتون ودانۍ د پاتې چارو پروژه هم وه، چې د تداركاتو ملي كمېسيون له لورې منظوره شوې او چارې به يې ډېر ژر تر سره شي. د يادونې وړ ده چې د روغتيايـي نيمه پاتې پروژو په بشپړېـدو سره به روغتيايي خدمـتونو ته د خلكو لاسرسى زيات ، د خدماتو كيفيت به لوړ، مركزي روغتونونو ته به د ورتګ اړتيا كمه او ګڼې نورې اسانتياوې رامنځته شي.

## د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غياثي د کابل طبي پوهنتون زده کړيالانو د فراغت مراسمو کې ګډون وکړ.




په دې مراسمو کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غياثي فارغانو ته د فراغت مبارکي ورکړه او ويې ويل: «نن زموږ په هېواد کې د زده کړو او تاريخ زرينه ورځ ده؛ دا ورځ نه يوازې د ګرانو فارغانو لپاره د نوې مرحلې پيل دی، بلکې زموږ د هېواد د راتلونکي روښانه روغتيايي سکټور لپاره د هيلو ځرک هم دی.» د يادو مراسمو پر دوام ښاغلي مرستيال فارغانو ته د ستر رسالت د پيل، د لويو فرصتونو او روغتيايي ننګونو يادونه وکړه او له هغوی يې وغوښتل، چې يوازې په طبابت بسنه ونه کړي، بلکې څېړونکي، ليکوالان او د روغتيايي سياست شنونکي هم واوسي. همدارنګه، ډاکټر محمد حسن غياثي وويل: «نن زموږ هېواد هغو ډاکترانو ته اړتيا لري، چې کليو، باندېو، ولسواليو او لرې پرتو سيمو ته ولاړ شي، هلته خدمت وکړي او د خلکو ترخنګ ودرېږي، له ناروغانو سره غوره چلند ترسره، په کار کې ريښتينولۍ او ژمنتيا ته پاملرنه وکړي او هم انساني کرامت ته درناوی ولري.» سربېره پر دې، د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال د ۱.۱ له کابينې څخه وغوښتل، چې د ځوانانـو پر روزنـه او ځانګـړې ډول روغتـيا بـرخه کې پانګـونې ته لـومړيتوب ورکـړي، څکه موږ د څـېړنې، تخصـص او فـوق تخصصي بـرخو کې لا زيات مـلاتړ ته اړتيا لرو.




## د غزني عامې روغتيا رياست کې د ولايتي. همغږۍ (PHCC) غونډه تر سره شوه.

ياده غونډه د غزني د عامې روغتيا رئيس ډاکتر محمد زرک ځيرک په مشرۍ د ولايت مقام، علماوو شورا او اقتصاد رياست استازو، تطبيقوونکو مؤسسو او يو شمېر نورو مسؤلينو په شتون کې ترسره شوه، په کې پر ځينو مهمو مسايلو بحث او خبرې وشوې او د بېلابېلو سيمو څخه راغلې عريضې هم وارزول شوې. د غزني د عامې روغتيا رئيس د ټولو همکارو ادارو له ملاتړ او همکارۍ څخه مننه وکړه او ياده غونډې يې د روغتيايي خدمتونو ښه‌والي او ستونزو حل لپاره مهمه وبلله.

## نشست هماهنگی ولایتی (PHCC) در ریاست صحت‌عامه ولایت غزنی برگزار شد.

این نشست به رهبری داکتر محمد زرک زیرک، رئیس صحت‌عامه ولایت غزنی، با حضور نماینده‌گان مقام ولایت، شورای علما، ریاست اقتصاد، مؤسسات تطبیق‌کننده و تعدادی از مسوولان دیگر اشتراک داشتند. در ادامه این نشست روی برخی موضوعات مهم بحث و تبادل نظر صورت گرفت و عرایضی که از نقاط مختلف رسیده بود نیز بررسی گردید. رئیس صحت‌عامه ولایت غزنی، از حمایت و همکاری تمام ادارات همکار ابراز قدردانی نموده و این نشست را برای بهبود خدمات صحی و حل چالش‌ها مهم و مؤثر خواند.

## سمنګان، کنړ، پکتيا او هرات ولايتونو کې له يو شمېر روغتيايي کتنځايونو، درملتونونو او د خوراکي توکو پلورنځيو څخه نظارت ترسره شو.

دغه نظارت د يادو ولايتونو د عامې روغتيا رياستونو د څارنې او پلټنې امريتونو له لوري ترسره شو، چې پايله کې يې سمنګان ولايت کې ۲۲۵ قلمه له نېټې تېر او بې کيفيته درمل راټول او يو روغتيايي کتنځای د غير مسلکي کسانو د فعاليت له امله، کنړ ولايت کې ۱۱ درملتونونه له روغتيايي قوانينو څخه سرغړونې له امله، پکتيا ولايت کې ۵ روغتيايي کتنځايونو د قانوني اسنادو نه درلودلو له امله وتړل شول او همدارنګه، هرات ولايت کې هم ۴۰ کيلو ګرامه له نېټې تېر او بې کيفيت خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګدامونو ته ولېږدول شول. د يادونې وړ ده، چې د ياد نظارت پر مهال اړوندو مسوولينو ته د کيفيت ښه والي او روغتيايي قوانينو مراعتولو په موخه لازمي سپارښتنې وشوې، چې د نه مراعتولو په صورت کې به له قانوني چلند سره مخ شي.



| | | | |
|---|---|---|---|
| ستر جراحي عملياتونه | کوچني جراحي عملياتونه | OPD خدمتونه | IPD خدمتونه |
| ٢١٦٠ | ٢٦٤٠ | ٩٧٢٠٠ | ١٠١٨٨ |

## تېر يو کال کې د هلمند ولايت په فاطمه بيات ٥٠ بستريز روغتون کې (٤٨٠٠) وړيا جراحي عملياتونه ترسره شوي دي.

د يادو جراحي عملياتونو له ډلې (٢١٦٠) ستر او (٢٦٤٠) کوچني جراحي عملياتونه دي، چې د افغان مجربو اومتخصصو داکترانو پر مټ په وړيا او بريالۍ توګه ترسره شوي دي. د جراحي عملياتونو ترڅنګ په دغه روغتون کې (٩٧٢٠٠) ناروغانو ته په وړيا توګه سرپايي (OPD) ، (١٠١٨٨) ناروغانو ته داخل بستر (IPD) ، (٤٢١٢) تنو ته نسايي ولادي خدمات وړاندې شوي دي.

## فراه کې د ٦٥٠ زره افغانيو په لګښت د نري رنځ ناروغۍ ځانګړې لپاره د درملو د نوي جوړ شوي زيرمتون پرانيسته ترسره شوه.



ياد زيرمتون د UNDP اداري په مالي لګښت جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو، چې د عامې روغتيا وزارت د ټاکل شويو معيارونو سره سم د درملو خوندي ساتنې، ښه مديريت او پر وخت وېش لپاره په لازمو شرايطو برابر دی. د فراه د عامې روغتيا رئيس، مولوي شيخ مير صدام د UNDP اداري له مسؤلينو څخه مننه وکړه، دغه زيرمتون يې د درملو خوندي ساتنې برخه کې اغېزناک وباله او زياته يې کړه، چې د خلکو د روغتيا خونديتوب لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## A state-of-the-art pharmaceutical warehouse dedicated to the Tuberculosis Department was officially inaugurated in Farah, with an investment of 650,000 Afghanis.

Funded by the UNDP, the facility has been handed over to authorities and fully complies with the Ministry of Public Health's standards, ensuring optimal conditions for the secure storage, efficient management, and timely distribution of medicines. Mawlawi Sheikh Mir Sadam, director of Farah's Public Health, commended the UNDP for their support, highlighting the warehouse as a crucial advancement in medicine safety, and pledged to sustain ongoing efforts to protect public health.

## به هزینه ٦٥٠ هزار افغانی، گدام تازه‌ساخته‌شده ادویه برای بخش بیماری توبرکلوز (سل) در فراه افتتاح شد.

این گدام به هزینه مالی اداره UNDP ساخته و به بهره‌برداری سپرده شد، که مطابق معیارهای تعیین‌شده وزارت صحت‌عامه، برای نگهداری مصوون ادویه، مدیریت بهتر و توزیع به موقع، با شرایط لازم مجهز می باشد. مولوی شیخ میر صدام رئیس صحت‌عامه ولایت فراه از مسوولان اداره UNDP به خاطر ساخت این گدام ابراز قدردانی نمود، و آن را در بخش نگهداری مصوون ادویه مؤثر دانسته افزود، که برای تأمین صحت مردم به تلاش‌های خود ادامه خواهند داد.





## په کندهار ولایت کې له یو شمېر روغتیایي مرکزونو څخه نظارت تر سره شو.

د عامې روغتیا وزارت د مور او ماشوم د روغتیایي حقوقو د ملاتړ ریاست مسؤولینو کندهار ولایت ته د درې ورځني سفر په ترڅ کې د سیمه ییز روغتون نسایي او ولادي څانګې، د ماشومانو او نویو زېږېدلو کوچنیانو څانګې، د یخ کاریز بنسټیز روغتیایي مرکز او د کندهار ولایت د شپږمې ناحیې د مور او ماشوم د روغتیایي مرکز څخه لیدنه تر سره کړه. د دې لیدنې په ترڅ کې د مور او ماشوم د روغتیایي حقوقو د ملاتړ څانګې مسؤولینو په یادو مرکزونو کې د مثبتو کړنو څخه؛ لکه پاک او منظم چاپیریال ، د دندې پر مهال د کارکوونکو منظم شتون، طبي اخلاقو ته پاملرنه، د میندو او ماشومانو لپاره د ۲۴ ساعته خدماتو وړاندې کول، د ناروغانو د لېږدولو لپاره د امبولانسونو شتون او په غوره توګه ورته د ښېړنیو خدماتو وړاندې کولو ستاینه وکړه. سربېره پر دې د روغتیایي مرکزونو او سیمه ییز روغتون د ښلا ښېلو برخو څخه د لیدنې پر مهال مسؤلینو ته د ستونزو حل په موخه لازمې سپارښتنې تر سره شوې ، مسؤولینو د مور او ماشوم د روغتیایي خدماتو د ښه والي په موخه یو شمېر نور مهم موضوعات هم د اړوندو مسؤلینو سره شریک کړل؛ تر څو ناروغانو ته معیاري روغتیایي خدمات وړاندې شي.

## د اکمال تخصص لوی ریاست د اکاډمیکو چارو د همغږۍ ریاست د بهرنیو اسنادو د ارزونې کمېټې غونډه ترسره شوه.

دا غونډه د اکمال تخصص لوی رئیس ډاکټر نثار احمد نیازي په مشرۍ د یاد ریاست په دفتر کې د بهرنیو اسنادو د ارزونې کمېټې غړو او د اکاډمیکو چارو د همغږۍ ریاست مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه د دې غونډې موخه د بهرنیو اسنادو د ارزونې د طریقې، د بهرنیو اسنادو د ارزونې لپاره د لارښوونو د ښواینې او د هغو ډاکټرانو د علمي کچې معلومول وو، چې په بهر کې زده کړې کړې دي، چې په اړه یې هر اړخیز بحث تر سره شو ؛ ترڅو د دوی اسناد په معیاري ډول وارزول شي او مجربو او وړ ډاکټرانو ته  د اصولو سره سم د معیاري او تخصصي روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د فعالیت اجازه ورکړل شي. په دې غونډه کې همداراز پرېکړه وشوه، هغه ډاکټران چې د تخصص روزنیز اسناد لري، د وروستي ځل لپاره دې ترې په استثنایي ډول د علمي کچې معلومولو کلنۍ ازموینه واخیستل شي.



## Meeting Held of the Committee for the Evaluation of Foreign Documents of the Directorate of Academic Affairs Coordination under the General Directorate of Medical Specialization.

The meeting was chaired by Dr. Nisar Ahmad Niazi, Director General of Medical Speciality Directorate, with the participation of members of the Foreign Document Evaluation Committee and officials from the Directorate of Academic Affairs Coordination. The purpose of the meeting was to improve methods for evaluating foreign documents, determine the academic level of doctors who studied abroad, and discuss the matter in detail. This will ensure that documents are assessed in a standardized manner and that experienced, qualified doctors are authorized to practice in accordance with established principles, thereby contributing to the delivery of standardized and specialized health services. It was also decided that doctors holding specialized training certificates would be exceptionally allowed to take an annual examination, for the last time, to determine their academic level.




## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د قزاقستان له سفیر، ښاغلي گزیز اکباسوف سره لیدنه تر سره کړه.

په دې لیدنه کې زلزله ځپلو ته د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو د روغتیايي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې، سرطاني او د زړه ناروغیو برخو کې د همکاریو ، روغتیايي مراکزو ته د طبي تجهیزاتو برابرولو، او د روغتیا برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو اړوند بحث او خبرې تر سره شوې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتیا برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ همکاري اړینه وبلله او ویې ویل: (دا چې د هېواد په ختیځ کې د زلزلو له کبله خلکو ته په زیاته کچه زیانونه رسېدلي؛ نو په همدې موخه زلزله ځپلو ټپیانو ته باید لا په ښه توگه روغتیايي خدمتونه وړاندې شي) ښاغلي وزیر همداراز، له یاد هېواد څخه د زړه ناروغیو ، سرطاني ناروغیو ، راډیولوژي خدماتو او عصبي جراحي برخو کې د ظرفیت لوړونې او تجاربو شریکولو غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه، قزاقستان په تېر کې هم د روغتیا برخه کې همکاري کړې او اوس هم تمه لرو ؛ چې په یادو برخو کې به خپلې تجربې او همکاري ترسره کوي. بل لور د قزاقستان سفیر وویل: افغانستان زموږ دوست هېواد دی او هڅه کوو بېلا بېلو برخو کې افغان روغتیايي کارکوونکو ته د روزنې زمینه برابره او روغتیا برخه کې ورسره دوامداره همکاري وکړو، نوموړي همدا راز ،د یو شل کسیز جراحي  تخنیکي ټیم د ژر راتگ وویل څو زلزله ځپلو ټپیانو ته وړیا جراحي عملیاتونه ترسره کړي.

## Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, held a meeting in his office with Mr. Gaziz Akbasov, the Ambassador of Kazakhstan to Afghanistan.

During the meeting, discussions focused on enhancing the capacity of health workers to provide services to earthquake victims, cooperation in the fields of cancer and cardiovascular diseases, the provision of medical equipment to health centers, and broader bilateral cooperation in the health sector. His Excellency Jalali described cooperation between the two countries in the health sector as essential and stated: "Since the recent earthquakes in the eastern part of the country have caused significant damage to the people, it is necessary to provide better health services to the earthquake victims and the injured." H.E. Jalali also requested Kazakhstan to further enhance its capacity and share its expertise in the fields of cardiovascular diseases, cancer, radiology services, and neurosurgery, adding that Kazakhstan has previously cooperated in the health sector and expressing hope that it will continue to share its experience and support in these areas. On the other hand, the Kazakh ambassador stated that Afghanistan is a friendly country and that they are working to provide training opportunities for Afghan health workers in various fields, as well as to continue cooperation in the health sector. He also announced the imminent arrival of a 20-member surgical technical team to perform free surgeries for the earthquake victims.



## کونړ ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د ملاریا او ډینګي ناروغیو د مخنیوي په موخه د ماش لومو (پشه خانو) د ویشلو کمپاین پیل شو.

یاد کمپاین د عامې روغتیا وزارت د ملاریا او ناقله ناروغیو پروګرام آمر، ډاکټر حزب الله فطرت له لوري د روغتیا نړیوال سازمان، UNDP او یونیسف ادارې د استازو په شتون کې پیل شو، چې په ترخ کې به یې د کونړ ولایت په زلزله ځپلو سیمو (خاص کونړ ولسوالۍ کمپ، سرې میاشتې کمپ، ژیړې بابا کمپ، څوکۍ ولسوالۍ) او د ننګرهار په دره نور ولسوالۍ کې زلزله ځپلو هېوادوالو ته (۳۶۵۰۰) پشه خانې وویشل شي. د یادونې وړ ده، چې د ملاریا او ناقله ناروغیو پروګرام له لارې تېر کال د ملاریا لوړ ګواښ لرونکو ولایتونو کې امیندوارو میندو ته (۲۱۲۶۸۳) پشه خانې، کندهار، بادغیس، فراه ولایتونو کې د اوټېریکونو د کنټرول په موخه (۳۶۶۳۱) او د ننګرهار ولایت د تورخم په عمري کمپ کې بېرته راستنېدونکو هېوادوالو ته (۱۷۹۶۲) پشه خانې ویشل شوي دي.





## د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انسټیټیوټ په تالار کې د Polymerase Chain Reaction (PCR) علمي کنفرانس ترسره شو.

دغه کنفرانس د PCR ټکنالوژۍ د علمي، څېړنیزو او عملي اړخونو د ارزولو لپاره د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انسټیټیوټ د طبي ټکنالوژۍ څانګې له لوري ترسره شو، چې موخې یې د مالیکولي بیولوژۍ د یوې بنسټیزې وسیلې په توګه د PCR اهمیت روښانه کول، د دې ټکنالوژۍ علمي، څېړنیزو او عملي اړخونو څېړل، د ناروغیو د تشخیص او درمل جوړونې برخو کې د PCR ټکنالوژۍ د کارونې ارزونه او پرې سم پوهاوی او د ګډونوالو د مسلکي پوهې او مهارتونو لوړول دي.

په یاد کنفرانس کې ګډونوالو ته د PCR اصولو او تاریخچې، Real-Time PCR او د هغه د ګټو، د PCR په مرسته د ناروغیو تشخیص او په بیولوژیکي څېړنو کې PCR کارونې په اړه بېلابېلې مقالې وړاندې او د کنفرانس پایله له ګډونوالو سره شریکه شوه. د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انسټیټیوټ رئیس دوکتور محمد قاسم عادل د ګډونوالو له فعال ګډون څخه مننه وکړه، یاد کنفرانس یې مهم او د عامې روغتیا وزارت لپاره یوه لاسته راوړنه وبلله.




## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني او مل تخنیکي ټیم پنجشیر ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت له والي ملا محمداغا حکیم سره لیدنه ترسره کړه.

په دې لیدنه کې د روغتیایي خدماتو ښه والي او شته ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې، د پنجشیر والي ملا محمداغا حکیم ژمنه وکړه، چې ولایتي اداره به له مرکزي ادارې سره په ګډه د روغتیا برخې پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کوي او زیاته یې کړه، چې د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو دا ډول سفرونه د ستونزو حل او اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره مهم دي. د داخلي تفتیش رئیس وویل، د روغتیایي خدماتو ښه والي په موخه به هر راز ستونزې په ګډه حلوي او هڅه کوي، چې د پنجشیر ولایت وضعیت ته په کتو روغتیا برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي؛ تر څو خلکو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته شي. د یادونې وړ ده، چې دغه سفر د عامې روغتیا ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کلنۍ ارزونې په موخه ترسره شوی؛ تر څو د روغتیایي خدمتونو کیفیت و ارزول شي، ستونزې حل او خلکو ته پر وخت لازم خدمات وړاندې شي.

## Mawlawi Mohammad Saleem Haqqani, Director of Internal Audit at the Ministry of Public Health, led a technical delegation to Panjshir province, where he held a consultative meeting with the provincial governor, Mullah Mohammad Agha Hakim, as part of an official oversight mission.

The meeting centred on improving healthcare and tackling ongoing challenges in the province. Governor Mawlawi Mohammad Agha Hakim gave his assurance that the provincial administration would work hand in hand with central authorities to bolster the health sector. He emphasised that high-level visits by senior Ministry of Public Health officials go a long way (play an important role) in ironing out persistent issues and streamlining access to essential medical services. The Director of Internal Audit stated that all challenges would be addressed collectively to improve health services, and efforts would be made to bring about significant changes in the health sector, taking into account the situation of Panjshir province, so that the necessary facilities could be provided for the people. The Public Health Directorate conducted an annual 1447 AH assessment visit to evaluate the quality of health services, identify key challenges, and ensure timely delivery of essential services to the public.

## د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي په مشرۍ د تدارکاتو ریاست مسؤلینو د خصوصي شرکتونو له استازو سره غونډه ترسره کړه.

په دې غونډه کې چې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د تدرکاتو ریاست مسؤلینو او د خصوصي شرکتونو استازو (داوطلبانو) ګډون کړی ؤ، په کې د عقودو نوي قانون له مخې د پروژو د بیا پیل او ورکړې په اړه خبرې ترسره شوې. د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي د پروژو پر غوره مدیریت او شفافیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې دا پروژې د ازادې دواطلبۍ له لارې شرکتونو ته ورکول کېږي او له هر ډول تقلب او فساد څخه خوندي دي.  دغه راز، ښاغلي مرستیال له دواطلبانو څخه وغوښتل، چې د پروژو اخیستلو او پر مخ وړلو برخه کې باید د شفافیت اصل، کیفیت او معیارونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او هم عدالت په پام کې ونیسي. په یاده غونډې کې د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو رئیس، استاد زبیر غالب او یو شمېر نورو مسؤلینو د عقودو نوي قانون مطابق چارې تشریح او ټولو داوطلبانو ته یې د بشپړ شفافیت ډاډ ورکړ. د یادونې وړ ده، چې د عـامې روغتیا وزارت اړوند د اجناسو او ۳۱۸ GH روغتونونو ساختماني پروژې بیا پیل شوي، چې یوولس پروژې به نن اعـلان ته وسپارل شي.



## KABUL – A high-level meeting, chaired by Qari Abdul Wali Siddiqi, Deputy Minister for Finance and Administrative Affairs at the Ministry of Public Health, was convened with the participation of officials from the Procurement Directorate alongside representatives of private companies.

The meeting, which was attended by the Deputy Minister, procurement officials, and representatives of bidding companies, served as a platform for deliberations concerning the re-initiation and allocation of projects, pursuant to the newly enacted Contract Law. The discussions were aimed at aligning all stakeholders with the updated legal directives governing procurement. During his address, Qari Abdul Wali Siddiqi laid particular emphasis on the imperatives of effective project oversight and institutional transparency, affirming that all projects would henceforth be awarded through a competitive and transparent bidding process, thereby eliminating opportunities for fraud or administrative malpractice. He further called upon all participants to observe the principles of transparency, quality assurance, adherence to standards, and procedural fairness throughout both the procurement and execution phases of the respective projects. Additionally, Ustad Zubair Ghalib, Director of the Procurement Directorate, accompanied by several senior officials, elaborated on the revised procedural framework under the new Contract Law, offering assurances to all prospective bidders regarding the Ministry's commitment to full transparency and legal compliance. It is noteworthy that procurement processes for both goods and construction projects across 318 hospitals affiliated with the Ministry of Public Health have officially resumed, with 11 of these projects scheduled for public announcement today.




## پکتیا کې د ۱۱۱۶۸۸۷ افغانیو په لګښت د نري رنځ ناروغۍ ځانګې لپاره د درملو د نوي جوړ شوي زیرمتون پرانیسته ترسره شوه.

یاد زیرمتون د UNDP اداري په مالي لګښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، چې د عامې روغتیا وزارت د ټاکل شویو معیارونو سره سم د درملو خوندي ساتنې، ښه مدیریت او پر وخت وېش لپاره په لازمو شرایطو برابر دی. د پکتیا د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر معراج ګل عادل د UNDP اداري له مسؤلینو څخه مننه وکړه، دغه زیرمتون یې د درملو خوندي ساتنې برخه کې اغېزناک وباله او زیاته یې کړه، چې د خلکو د روغتیا خوندیتوب لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي

## پکتیا کې د ۱۱۱۶۸۸۷ افغانیو په لګښت د نري رنځ ناروغۍ ځانګې لپاره د درملو د نوي جوړ شوي زیرمتون پرانیسته ترسره شوه.

این گدام به کمک مالی اداره UNDP ساخته شده و به بهره‌برداری سپرده شد. این مرکز مطابق به معیارهای تعیین‌شده وزارت صحت عامه، و دارای شرایط لازم برای نگهداری مصوون ادویه، مدیریت مؤثر و توزیع به‌موقع آن‌ها می‌باشد. داکتر معراج‌گل عادل، رئیس صحت عامه پکتیا از مسوولان اداره UNDP ابراز تشکر نمود و این گدام را در بخش نگهداری مصوون ادویه مؤثر دانست. او افزود که تلاش‌های‌شان را برای حفظ صحت مردم ادامه خواهند داد.






## د هلمند عامې روغتیا ریاست سره د ۱۷۶٤٦۰۲ افغانیو په ارزښت د یو شمېر طبي تجهیزاتو مرسته وشوه.

یاده مرسته د فاطمه خیریه بنسټ له لوري وشوه، چې په کې د معلولینو لپاره ۳۰ پایې ویلچرونه، د تنفسي ناروغانو لپاره ۳۰ پایې د اکسیجن کانسنتریترونه (Oxygen Concentrators) ، د انتاني ناروغیو د کنټرول لپاره ۲۰ عدده د الټراوایلټ وړانګو فلټرونه او د درملو دقیقه تطبیق لپاره ۲۰ عدده انفیوژن پمپونه او ۲۰ عدده سرنج پمپونه شامل دي. د هلمند د عامې روغتیا رئیس، مولوي فضلي احمد شفیع الله د یادې مرستې له امله د فاطمه خیریه بنسټ له مسؤلینو څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې دغه تجهیزات به په روغتونونو او روغتیایي مرکزونو کې ګټې اسانتیاوې رامنځته او د خدماتو کیفیت لوړ کړي.



## Construction of a basic health center worth 100,000 US dollars has started in the Camp area of Khas Kunar district, Kunar province, to provide medical care for earthquake victims.

Funded by UNICEF, the project is expected to be completed in approximately two weeks, and once operational, the health center will provide comprehensive health services to those affected by the recent earthquake.

## د کونړ ولایت خاص کونړ ولسوالۍ کمپ کې د زلزله ځپلو درملنې لپاره د ۱۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د یو اساسي روغتیایي مرکز د جوړېدو چارې پیل شوې!

یاد روغتیایي مرکز د جوړېدو چارې د یونیسف اداري په مالي ملاتړ پیل شوې، چې شاوخوا دوه اونیو کې به بشپړې شي او د وروستی زلزلې د زیانمنو شویو لپاره به په کې ټول اړین روغتیایي خدمات وړاندې کېږي.





## Inspection Carried out in Several Health Centers, Pharmacies and Food Stores in Khost and Herat Provinces.

This inspection was conducted by the monitoring and inspection officials of the Public Health Directorates of the aforementioned provinces. As a result, four health centers and three pharmacies in the 2nd and 4th districts of Khost Province were closed for violating health laws, while in the 6th district of Herat Province, 100 kilograms of expired and substandard food products were collected and sent to the central warehouse for disposal.

## خوست او هرات ولایتونو کې له یو شمېر روغتیایي مرکزونو، درملتونونو او د خوراکي توکو پلورنځیو څخه نظارت تر سره شو.

دغه نظارت د یادو ولایتونو د عامې روغتیا ریاستونو د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې د خوست ولایت دوهمه او څلورمه ناحیه کې څلور روغتیایي مرکزونه او درې درملتونونه له روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول او د هرات ولایت شپږمه ناحیه کې ۱۰۰ کیلو ګرامه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګودام ته ولېږدول شول.



## کونړ ولایت کې د ملاریا او ډینګي ناروغیو د مخنیوي په موخه د پشه خانو د ویشلو کمپاین څخه نظارت ترسره شو.

یاد نظارت د عامې روغتیا وزارت د ملاریا او ناقله ناروغیو د پروګرام آمر ډاکټر حزب الله فطرت له لوري، چې د کونړ د عامې روغتیا رئیس قاري مظفرخان مخلص یې هم ملتیا کوله ترسره شو. په دغه نظارت کې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د ملاریا او ډینګي ناروغیو د مخنیوي په موخه د ماش لومو (پشه خانو) د وېشلو کمپاین ارزونه وشوه؛ ترڅو د ماش لومو وېش په شفاف ډول ترسره، د ملاریا او نورو ناقله ناروغیو مخه ونیول شي. دغه راز، د نظارت مسؤلینو د پشه خانو دوامدار او سم استعمال د ملاریا او ډینګي ناروغیو د خپرېدو خطر کمښت لپاره اغېزمن وباله او له کورنیو څخه یې وغوښتل، چې د ولاړو اوبو ډنډونه له منځه یوسي، روغتیايي لارښوونو او د خپل چاپېریال پاک ساتلو ته پاملرنه وکړي؛ ترڅو له خطرناکو ناروغیو څخه خوندي پاتې شي.

## A Mosquito Net Distribution Campaign Monitored in Kunar Province to Prevent Malaria and Dengue.

Dr. Hizbullah Fitrat, Director of the Malaria and Communicable Diseases Program at the Ministry of Public Health, conducted the monitoring, accompanied by Qari Muzaffar Khan Mukhlis, Director of Kunar Public Health. This monitoring assessed the campaign to distribute mosquito nets to families affected by the recent earthquake, aiming to prevent malaria and dengue, ensure transparent distribution, and reduce the risk of malaria and other infectious diseases. Additionally, the monitoring officials emphasized that the consistent and proper use of mosquito nets is effective in reducing the risk of malaria and dengue. They urged families to remove stagnant water, follow health guidelines, and maintain a clean environment to protect themselves from dangerous diseases.

## از جریان توزیع پشه‌خانه ها، برای جلوگیری از بیماری ملاریا و تب دینگی نظارت صورت گرفت.

این نظارت توسط داکتر حزب‌الله فطرت، آمر برنامه ملاریا و بیماری‌های ساری وزارت صحت عامه، که قاری مظفرخان مخلص، رییس صحت عامه کنر نیز او را همراهی می‌کرد، صورت گرفت. در این نظارت، توزیع پشه‌خانه ها برای جلوگیری از ملاریا و تب دینگی در بین خانواده‌های آسیب‌دیده از زلزله اخیر ارزیابی شد؛ تا توزیع پشه‌خانه ها به صورت شفاف صورت گیرد و از بیماری ملاریا و سایر بیماری‌های ساری جلوگیری شود. علاوه بر آن، مسئولان نظارت، استفاده دوامدار و صحیح از پشه‌خانه ها را در کاهش خطر ابتلا به ملاریا و تب دینگی مؤثر دانستند و از خانواده‌ها خواستند تا آب‌های ایستاده را از بین ببرند، به رهنمود های صحی توجه کنند و محیط خود را پاک نگه دارند، تا از بیماری‌های خطرناک در امان بمانند.

## د عامې روغتیا وزارت د روږدو  د درملنې ملي برنامې د ستراتیژیک پلان، معیاري کړنلارو (SOPs) او اړوند لارښودونو د بیاکتنې لومړۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس ډاکټر وحدت الکوزي، د عامې روغتیا وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو او امرینو، د روغتیا نړیوال سازمان  (WHO)  او همکارو ادارو استازو ګډون کړی و. د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس ډاکټر وحدت الکوزي وویل: (اعتیاد یو ناورین دی او د روږدو کسانو د درملنې لپاره باید یو منظم او هر اړخیز پلان جوړ او بیا کتنه یې وشي).  نوموړي زیاته کړه، چې نوی ستراتیژیک پلان باید د هېواد د اوسنیو شرایطو سره سم اصلاح او بیاکتنه یې وشي، هغه همداراز ټینګار وکړ، چې دا برنامه یوازې د عامې روغتیا وزارت پورې اړه نه لري، بلکې د ټولو اړوندو دولتي او نړیوالو ادارو همکارۍ ته هم اړتیا لري. په دې غونډه کې همداراز، د روږدو د درملنې ملي برنامې رئیس، مولوي انعام الله عمار وویل: (د دې پروګرام د بیاکتنې موخه د ستراتیژیک پلان، لارښودونو او کړنلارو ښه کول دي؛ تر څو د روږدو ناروغانو د درملنې خدمات د هېواد د اوسني وضعیت او نړیوالو معیارونو سره سم تر سره شي).  هغه د نړیوالو ادارو، په ځانګړې توګه د روغتیا نړیوال سازمان  (WHO)  له همکارۍ څخه مننه وکړه، او له نړیوالو ادارو یې وغوښتل چې په دې برخه کې لا زیاته همکاري وکړي. دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د لومړنیو روغتیایي خدمتونو رئیس ډاکټر ذبیح الله حارث او د روغتیا نړیوال سازمان استازي علي رضا نوروزي د ستراتیژیک پلان د بیاکتنې په اړه هر اړخیزې ویناوې ترسره او په دې برخه کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه، چې دوی به د عامې روغتیا وزارت سره د ګډې همکارۍ له مخې د روږدو د درملنې ملي برنامې د بیاکتنې په پروسه کې په فعاله توګه کار کوي؛ ترڅو  د خدماتو کیفیت لوړ او د برنامې موخې په ښه توګه تطبیق شي.



## Inaugural Meeting to Review the Strategic Plan, Standard Operating Procedures (SOPs), and Related Guidelines of the Ministry of Public Health's National Addiction Treatment Program.

The meeting was attended by Dr. Wahdat Alokozay, Director General of Curative Medicine at the Ministry of Public Health, along with several central directors and officials of the ministry, as well as representatives from the World Health Organization (WHO) and partner organizations. Dr. Wahdat Alokozay stated: "Addiction is a disaster, and a systematic, comprehensive plan must be developed and regularly reviewed to ensure effective treatment for addicts." Alokozay added that the new strategic plan should be revised and updated in line with the country's current conditions. He further emphasized that this program is not solely the responsibility of the Ministry of Public Health, but also requires the cooperation of all relevant government institutions and international organizations. At the meeting, the Director of the National Addiction Treatment Program, Mawlawi Inamullah Ammar, said: "The purpose of reviewing this program is to improve the strategic plan, guidelines, and procedures so that addiction treatment services are delivered in accordance with the country's current circumstances and international standards." Ammar expressed gratitude to international organizations, particularly the World Health Organization (WHO), for their cooperation, and urged them to further strengthen their support in this regard. In addition, Dr. Zabihullah Haris, Director of Primary Health Services at the Ministry of Public Health, and Ali Reza Norouzi, Representative of the World Health Organization, delivered comprehensive remarks on the review of the strategic plan and pledged their cooperation. They affirmed that they would work closely with the Ministry of Public Health in the review process of the National Addiction Treatment Program to improve service quality and ensure the effective implementation of the program's objectives.




## د کونړ ولایت عامې روغتیا ریاست سره ۴۶ قلمه درملو او ۳۶۰ عدده حفظ الصحې کیټونو مرسته وشوه.

یاده مرسته د (MMRCA) مؤسسې له لوري د وروستی زلزلې د قربانیانو درملنې او لومړنیو اړتیاوو پوره کولو په موخه وشوه؛ ترڅو د زلزله ځپلو روغتیایي ستونزې حل او ورته لازم خدمتونو وړاندې شي. د کونړ د عامې روغتیا رئیس قاري مظفرخان مخلص د دغې مرستې له امله د (MMRCA) مؤسسې له مسؤلینو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې یاد درمل او کیټونه به د روغتیایي مرکزونو له لارې په شفاف ډول اړمنو خلکو ته ووېشل شي.

## ۳۶۰ عدد کیت های حفظ الصحه و ۴۶ قلم ادویه به ریاست صحت عامه ولایت کنر کمک شد.

این کمک از طرف مؤسسه (MMRCA) به هدف تداوی قربانیان زلزله اخیر و رفع نیازهای اولیه آنان صورت گرفت؛ تا مشکلات صحی زلزله‌زده‌گان برطرف و خدمات لازم برایشان ارائه گردد. قاری مظفرخان مخلص رئیس صحت عامه کنر، از مسوولان مؤسسه (MMRCA) به خاطر این کمک قدردانی نموده و افزود که این ادویه ها و کیت‌ها از طریق مراکز صحی به گونه شفاف به مردم نیازمند توزیع خواهد شد.

## The Kunar Provincial Public Health Directorate Received a Donation of 46 Items of Medicines and 360 Hygiene Kits.

This aid was provided by the MMRCA organization to help treat and meet the basic needs of the recent earthquake victims, address their health problems, and provide them with essential services. The Director of Kunar Public Health, Qari Muzaffar Khan Mukhlis, expressed his gratitude to the officials of the MMRCA organization for their assistance and noted that the medicines and kits would be distributed through health centers in a transparent manner to those in need.

## تېر یو کال کې د هلمند ولایتي روغتون کې شاوخوا (۱۲۱۳٦) وړیا جراحي عملیاتونه ترسره شوي دي

د یادو جراحي عملیاتونو له ډلې (۱۰٦۰۱) ستر او (۱۵۳۵) کوچني جراحي عملیاتونه دي، چې د افغان مجربو او متخصصو ډاکټرانو پر مټ په وړیا او بریالی توګه ترسره شوي دي. د جراحي عملیاتونو ترڅنګ په دغه روغتون کې (۲۷۰۰۱۵) ناروغانو ته په وړیا توګه سراپا (OPD)، (۴۴۲۸۹) ناروغانو ته داخل بستر (IPD)، (۲۷۲۰۸) تنو ته نسایي ولادي او (۱۲۷۳) ناروغانو ته هیموډیالیز خدمات وړاندې شوي دي.

| | |
|---|---|
| ستر جراحي عملیاتونه | ۱۰٦۰۱ |
| کوچني جراحي عملیاتونه | ۱۵۳۵ |
| OPD خدمتونه | ۲۷۰۰۱۵ |
| IPD خدمتونه | ۴۴۲۸۹ |
| نسایي ولادي | ۲۷۲۰۸ |
| هیموډیالیز | ۱۲۷۳ |

# د عامې روغتیا وزارت رسمي نشراتي ادرسونه!

یوټیوب

ویب پاڼه

انسټاګرام

فیسبوک

ایکس ( ټویټر )

واټس آپ چینل